


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نیټه : 26 دسمبر 2014 م

# د ژوند فلسفه

عمر چې ځغلی او تیریږی کله بیرته راځی
یوه شیبه هم نه دریږی کله بیرته راځی

هره شیبه دژوند دوستانو غنیمت وګڼی
مړی چې قبر کی ښخیږی کله بیرته راځی

حیف د پرون ښه کړی سبا لری ته
اوبه روانی چې بهیږی کله بیرته راځی

عمر لمبه ده ښه ځلیږی خو ایره شی تولله
شمعه روښانه چې مړه کیږی کله بیرته راځی

غفلت مرغی ده له لاس والوتله
چې مرغی آلوځی ورکیږی کله بیرته راځی

نو بیا راځی چې خپل وطن آباد کو
چې د فرصت بیړی ډوبیږی کله بیرته راځی

محبه تش په دی لیکلو دی ښه نه کیږی
ستا دقلم رنګ چې کمیږی کله بیرته راځی

انجينر محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org